# ماشومانو مقدس کتاب

## وړاندې کونکے



# بنهٔ بادشاه، او
# بد بادشاه

لیکونکے: Edward Hughes

خیال: Lazarus
Alastair Paterson

خوښونکے: Ruth Klassen

ترجمه کونکے: Aim4Faith Ministries

مددګار: Bible for Children
www.M1914.org

©2024 Bible for Children, Inc.
تاسو دا قیصئ نقل کولے شئ یا چاپ کولے شئ خو دا خرڅولے نۀ شئ.

دا د منسی د پاره یوه د خفګان ورځ وه. د هغهٔ پلار، حزقیاه بادشاه په دې وخت کښې مړ شو. نو اوس د دولسو کالو په عمر کښې منسی په یهوده کښې د خدائ پاک د خلقو نوے بادشاه وو. هغه وخت هغه نهٔ پوهېدو. خو منسی به تر پینځو پنځوستو کالو پورې بادشاه وی. منسی ته د یو ښهٔ بادشاه جوړېدو د پاره د خدائ پاک د مدد ضرورت وو.



خو منسی خدایٔ پاک هېر کړو او ګناه يې وکړه. منسی د بتانو د عبادت د پاره ځایونه جوړ کړل. او قربان ګاه يې جوړې کړې. تر دې پورې چې هغهٔ تراشلے شوی بتان هم جوړ کړل. او هغه يې د خدایٔ په پاک او مقدس کور کښې کېښودل. خدایٔ پاک د موسی په ذریعه فرمائیلی وو، چې تاسو کښې دې يو کس هم تراشلے شوی بتان نهٔ جوړوی، او مهٔ تاسو هغې ته سجده کوئ، او مهٔ د هغې خدمت کوئ.



منسی جادوګران او غیبو علم لرونکو په شان عمل وکړو.
هغۀ ډېر خلق د خدایٔ پاک نه واړول. تر دې چې هغوئ
خپل بچی بتانو ته د قربانئ په طور باندې
وسوزول. د منسی دې
نافرمانئ خدایٔ پاک
ډېر په قهر او
غصه کړو.



کله چې د هغهٔ خلق نافرمانی کوی، نو خدایٔ پاک هغویٔ له د سزا ورکولو اجازت ورکړی. منسی او هغه خلقو سره څهٔ کیږی چا چې په هغویٔ باندې حکومت کولو خدایٔ پاک په هغویٔ د اسوریانو فوج په هغویٔ باندې راولی. او منسی یې په زنځیرونو باندې وتړلو او بابل ته یې بوتلو.





په بابل کښې د مصیبتونو زغملو په دوران کښې، منسی د خدائ پاک نه سوال وکړو. هغهٔ د خپل پلار نیکهٔ خدائ پاک په وړاندې باندې ډېره په عاجزئ سره دعا وغوښتله. اوس به نوره د هغه مړو بتانو نه دعا نهٔ شی غوښتلے، خو آیا هغه ژوندے خدائ پاک به منسی له د دې دومره ګناهونو کولو نه پس جواب ورکړی؟

آو بلکل! خدائ پاک د بادشاه دعا
واورېدله او  هغه يې واپس خپل
تخت او په خپلو خلقو باندې د
بادشاهۍ کولو د پاره يروشلم ته
راوستلو. بيا منسی په دې باندې
پوهه شو چې مالک خدائ دے.





منسی بادشاه یو نوے انسان وو. هغهٔ د خدائ پاک د
مقدس کور هغه بتان لرې کړل، او هغهٔ ټول څیزونه یې په
یروشلم کښې راجمع کړل او وې غورزول. هغهٔ د خدائ
پاک د کور مرمت وکړو او د مالک خدائ ته یې د شکر
ګزارئ نذرانې پېش کړې.





بیا هغه خپلو خلقو له حکم ورکوی چې تاسو ټول د بنی
اسرائیلو د مالک خدائ پاک خدمت او عبادت کوئ. په
منسی کښې څۀ بدلون راغلو!



د منسی د مرګ نه پس د هغهٔ زوئ امون د بت پرستۍ په طرف باندې لاړو. خو هغهٔ لکه د منسی په شان د خدائ پاک په وړاندې خپل ځان عاجز نهٔ کړلو. او امون ډېر زیات ګناهونه وکړل. نو د هغهٔ خدمت کوونکو هغه په کور کښې قتل کړو. هغهٔ صرف دوه کاله بادشاهی وکړه.



وربسې يوسياه صرف د اتو
کالو وو. هغهٔ يو دېرش کاله
بادشاهی وکړه. هغهٔ به هغه څهٔ
کول څهٔ چې د خدائ پاک په
نظر کښې صحيح وو. هغهٔ
ټول د دروغو عبادت کوونکی
او د دروغو معبودان تباه کړل.
تر دې پورې چې يوسياه ټول
بتان ټوټې ټوټې کړل.



یوسیاه چې یو نېک بادشاه وو هغهٔ د خدایٔ پاک کور د دې
هر څهٔ نه صفا کړو او د هغې مرمت یې وکړو. یو ورځ
امام ته د موسی د شریعت کتاب ملاو شوو کوم چې ورله
خدایٔ پاک ورکړے په کوم کښې چې د خدایٔ
پاک حکمونه لیکلے شوی وو.



کله چې بادشاه د شریعت
هغه کلام واورېدو، نو هغهٔ
خپلې جامې وشلولې. یوسیاه
ته معلومه وه چې د هغهٔ
پلار نیکهٔ د خدائ پاک په
حکمونو او تابعدارئ کښې
ناکامه شوی دی.



خُلده نومې يوه ښځه وه هغه د خدائ پاک پېغام يوسياه ته ورکوى. هغې ورته ووئيل چې خدائ پاک فرمائى چې زۀ به په دغه ځائ او د دغه ځائ په خلقو باندې دا ټول لعنتونه راولېږم کوم چې تاسو په دې کتاب کښې ولوستل. ځکه چې هغوئ زۀ رد کړے يم. خو يوسياه عاجز او فرمانبرداره وو، دا هر څۀ به د هغۀ تر مرګه پورې نۀ کيږى.



خدایٔ پاک د یوسیاه مدد وکړو چې هغه خپل خلق واپس خدایٔ پاک ته راوګرځئ. یوه ورځ، کله چې یوسیاه په جنګ کښې د خپل لښکر مشری کوله، نو یوسیاه د دشمن په غشو باندې ډېر زیات زخمی شو.

د هغهٔ نوکر هغه په ګادئ کښې یروشلم ته یوړو چرته چې هغه مړ شو. د هغهٔ ټولو خلقو په هغه باندې ماتم وکړو، او د ښهٔ بادشاه یوسیا په غم کښې یې سندره ووئیله.





ډېر زر بادهی ختمه شوه. خو یوه
ورځ به بیا په بنی اسرائیلو باندې
یو بادشاه بادشاهی کوی. د هغهٔ
نوم به د بادشاهانو بادشاه وی.
کله چې عیسی مسیح په اول
ځل راغلو، نو هغه رد کړے
شو او په سولی کړے شو.
کله چې عیسی مسیح دوباره
راشی نو هغه به صرف د
اسرائیل بادشاه نهٔ وی، بلکې
د ټولې دنیا بادشاه به وی.

بنهٔ بادشاه، او بد بادشاه

دَ خدائ په کلام په مقدس کتاب کښې دا قیصهٔ

شته دے

دوېم تواریخ ۳۳ – ۳۶

"ستا دَ خبرو تشریح نُور بخښی ."

زبور 130:119

ختم شو

دا قیصۍ مونږ ته زمونږ د حیرانونکی خدائ په باره کښې ښودنه کوې چې چا مونږ پیدا کړو او چې څوک غواړی چې هغه مونږ وپیژنو.

خدائ پوهیږی چې مونږ ډیر غلط کارونه کړی دی، چې هغې ته هغه ګنا وایې. د ګنا مزدوی مرګ دے خو خدائ مونږ سره ډیره مینه کوې نو ځکه هغهٔ خپل یک یو زوئ راولیږلو چې هغه زمونږ د ګناهونو د خاطره سزه وزغمې او په سولۍ خپل ځان قربان کړې.او بیا عیسی د مړو نه ژوندے شو او آسمان ته لاړو. کهٔ تهٔ په عیسی باندې ایمان راوړې او د هغهٔ نه د خپلو ګناهونو بخښنه غواړې نو هغه به تا ته بخښنه وکړې. هغه تا خواته راځی او ستاسو دننه به استوګنه کوی او تهٔ به هغه سره د همیشه د پاره ژوندے اوسیږی.

کهٔ تهٔ په دې ایمان لرې چې دا رښتیا دی نو خدائ ته ووایه.خوږه عیسی زهٔ ایمان لرم چې هم تهٔ خدائ یې. تا زما د خاطره پیدا شوې او زما د خاطره مړ شوې او اوس تهٔ د تل د پاره ژوندے یې. زما په ژوند کښې راشه او زما ګناهونه وبخښه، چې زهٔ هم د نن نه ژوندون ومومم او د همیشه د پاره تاسره یم. زما مدد وکړه چې زهٔ ستا تابعداری وکړم او ستا زوئ یا لور جوړه شم. آمین
مقدس کتاب ولولئ او خدائ سره روزانه خبرې وکړئ، یوحنا۳:۱۲